

# لیونی

# جیرې

Ketabton.com

لیکوال: روح الله روحانی

کال: ۱۳۹۹

whatsapp, telegram +93775148889

**سرکرښه　　　　فهرست　　　　مخ ګڼه**

مينه ښکلا ده؟ که ښکلا مينه؟.................................3
د ګرانښت فلسفه....................................................8
متمرکزه ښکلا......................................................12
څلور پاليسۍ.......................................................15
د مانې زرات.......................................................22
د هدف لار.........................................................26
د مينې مينه........................................................28
په خپل شعر کتنليکنه.............................................29
اوبلنۍ سترګی.....................................................32
ښکلا پېژندونکی سړی...........................................33
مجازي مينه؛ حقيقت ته نيږدې ده؟ که هوس ته؟........36
د خدای(ج) ذرې...................................................37
دانسان اړيکې دټولنې سره.......................................39
په لنډيو کې خبرې.................................................41



## پیلیزه

د ستر حسن په نوم!

مینه او مینه مې ومنئ!، دغه سافټوریک کتاب مې له خپلو هغو لیکنو جوړ کړو ، چې راسره پاتې شوې وې، په لسګونو لیکنې مې له ګوتو ووتې، نه چاپ شوې، نه چا راسره ولوستې.

کتاب ته مې نوم(لیونی خبرې) ورکړ، ځکه چې زما خبرې دي، د کوم پوهاند خبرې نه دي او ټولې پنځونې دي، کوم تحقیقاتي مونو ګراف نه دی، چې له کوم ماخذه به مې کار پکې اخیستی وي.

بل سبب دادی چې؛ په کتاب کې هرډول لیکنې دي، یانې دریغ مې ندی کړی. داسې لیکنې هم ، چې یو له بل سره هیڅ تناسب نه لري او باید په بېلو بېلو کتابونو کې راشي.

## دالی

**هغه چاته چې مینه یې راسره وکړه او پرې یې ښودم.**

په درنښت ستاسو ورور

**روح الله روحانی**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه ښکلا ده؟ که ښکلا مینه؟

دا پوښتنه مې ترډېره په زړه کې ګرځېده، که ښکلا به مې ترمینې غوره وبلله نو دمینې ارزښت به له منځه تلو، او که مینه به مې له ښکلا غوره کړه نو ښکلا به مړاوې کیده.

که وبه مې ویل چې هم ښکلا مینه ده او هم مینه ښکلا، بیا هم دشک او خیال په دایره کې بند وم، په فلسفه کې یوه اصطلاح د ه چې که ټول ښه وي، یو پکې ډېر ښه وي.

دا خبره به ماته هم مخې مخې ته کیده، که څه هم ښکلا دلید او مینه داحساس په تله سره برابر ښکاري خو دپورته اصطلاح پر بنسټ یوپکې خامخا دروندډی.

ترټولو حیرانوونکې خو دا وه چې څومره به مې د طبعیت له ښکلاګانو او ارواګانو په اړوند پوښتل او څېړنه به مې کوله نو همدومره به دمینې او ښکلا ترمنځ ارزښت لید راته ګرانیده.

که له ښکلا به مې دمینې په اړه وپوښتل نو په ډېر عاجزانه ډول به یې دځان حقارت راته سپاړلو، مینه ته به یې پوره احترام درلودو، ویل به یې زه (ښکلا) هیڅ نه یم خو مینه ده چې ماته یې دښکلا دنوم لورینه راکړې ده.

که له مینې څخه به مې دښکلا په اړه وپوښتل نو ته به وایې چې هغه دښکلا دصداقت او خاکسارۍ څخه خبره ده، ځان به یې خاورې باله،



(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل به يې ښکلا ده چې زه (مينه) ورڅخه زيږيږم، له ښکلا پرته مينه نه پيدا کيږي.
خو که له خوبانو(ښکلو) څخه به مې دميني په اړه وپوښتل نو هغوی به له کبره خولې کږې کړې، په ډېر ناز او غرور به يې مينې ته پرښکلا سر لوړي ورکوله.
ويل به يې موږ يانې ښکلي يو چې په زړونو کې مينه راژوندی کوو، مينې ته پايښت ورکوو، ليدلې به د وي چې څومره زموږ ښکلا وي هغومره راسره دزړونو مينه وي، که ښکلا مو خزان شي نو دمينې پاڼه هم ژيړه شي.
بل خوا به مې که له ميينانو دښکلا په اړه وپوښتل نو توبې به يې وکښلې، خاورې به يې ښکل کړې.
ويل به يې: دا دمينې او ميينانو سپکاوی دی، موږ خو ښکلا پرست نه بلکې مينه پرست يو.
ليدلې به دې وي چې ډېر مين له خپلې معشوقې سره آن ترمرګه مينه کوي، که ښکلا مينه وي نو مينه خو ژر له منځه ځي، مګر مينه ښکلاده چې بقا لري.
ټولې خبرې مې واوريدې، هرڅه مې ولوستل خو په دې فلسفي پوښتنه پوه نه شوم چې ايا مينه ښکلا ده؟ که ښکلا مينه؟
ګل ته کېناستم، داستړی زړه مې ورته تش کړ، ګل ويل مينه ښکلا ده، هر سهار تک تور بورا راځي زم زم زم به دې اوريدلې وي، هو په



(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو يې دوزرونو زنهاري ډېر بدلګيږي خو زه ورسره مينه لرم، دبورا تور بدن سره غيږ په غيږه وم، دهغه ډارونکې او ارې ارې پښې مې پر سرو او نازکو غومبرو کربنې راکاږي او دوږمو وينه ورڅخه بهوي، خو زه هماغسې ورته غوږيدلې سينه پرانيستى وم.

نو ته ووايه چې مينه ښکلا نه ده؟

ښه په بورا کې کومه ښکلا ده چې زه يې دومره ستمونه په سر وړم، هيڅ ښکلا نه لري مګر زه او هغه مينه سره لرو.

اوف دلته بيا ماته ځينې پوښتنې پيدا شوې.

سيده بورا ته ورغلم، هغې ته مې هم همدا سندره وغږوله.

زمم زمممم زمممممم بورا مې خو ورارې پر اوږو په اطمنان سره تير شو، مخامخ ودريده، وزونه يې وهل ويې ويل:

ښکلا مينه ده.

زه هر سهار له خپلو کمزورو وزرونو سره ظلم کوم او د ګل خوا ته ورځم، ځکه هغه ښکلا لري.

زه د ګل پر خالي شاخونو او پاڼو نه يم ناست، د ګل پر ګل کينم، ځکه ګل؛ ګل دى، ښکلا لري.

ښه!؟ تاليدلى چې ګل په ماپسې رالوتى دى؟!

نه

ځکه زه ښکلا نه لرم، تور، ببر او ځيګ بدن لرم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه! بله درته ووايم:

زه دې چېرته ليدلی يم چې دتوت پرپاڼو ناست يم؟

دسنځلې پرشاخونو به دې هم نه وم ليدلی؟!

ځكه دلته ښكلا نشته، ځكه ورسره مينه نه لرم، ګل ښكلا لري زه ورسره مينه لرم.

دبورا خبرو تر ګل ډېر حيران كړم، خپل زړه ته مې دا پوښتنه وسپارله هغه مخكې له دې چې فكر ورباندې وكړي راځواب كړه، سمدستي يي ووېل: مينه ښكلا د ه ما د(هغه) څېره نه ده ليدلې خو پرې مين يم.

په دې خبره راباندې ستر ګې خبرې شوې، خبره يې رد كړه هغه هم په ډېر لنډ ځواب سره ووېل:

ښكلا مينه ده، وګوره موږ په ورځ كې سل او زر وينو خو پرې مييني نه يو، خو (هغه) چې ښكلا لري مينه ورسره لرو.

توبه مې دې وي، دا دستر ګو او زړه خبرې تر نورو ډېر په شک کې واچولم.

دنور افكار او عقل مې پرځای پرېښود له خپل عقل او فكر څخه مې وغوښتل چې ووايي مينه ښكلا ده او كه ښكلا مينه؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل هم څه عجیب شی دی سمدستي یي ځواب را نه کړ، له ډېر فکر او فکر وروسته په دې وپوهیدم چې هم مینه ښکلا ده او هم ښکلا مینه ده خو افراد یې سره توپیر لري.

## دګرانښت فلسفه

ګرانښتونه هغه معنوي ټولنيز اتصالات دي چې په اساس يي يوه ټولنه دژوند دسمندر پر ساحل دقدم وهلو لپاره برابروي
او هغه ټولنيزې ستونزې او ناخوالې چې په فردي توګه نه حل ګيږي فقط ګرانښت دې چې دحل لپاره يي منظمې او مناسبې لارې چارې لري
دځينو ټولنپوهانو دليکنو دخيړلو څخه واضحه ښکاري چې ګرانښت هغه پديده او وسيله ده چې هره ټولنه وربانديې پايي او بې له ګرانښت څخه په ټولنه کې افراد او شته خلک انسانان نه بلکې وحشي دي
ګرانښت يا ګرانوالی دخلکو د ذهنونو، زړونو، احساساتو، او مفکورو ترون او يوځاي والي په داسې مهارت او کمال ترسره کوي چې دهغوی دښه ژوند، فعالې ټولنې او مسلسلې کړندلارې سبب کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ګرانښتونه مختلف ډولونه لري چې زموږد تیروتنو له کبله
دهغوی هرډول په خپل ځاي کې نه کاریږي او هریوډول یې بل ډول
ته خپل ځاي خوشي کوي
کیدای شي که زه درته دګرانښت دډولونو نومونه واخلم حیران شی او
وویاست چې دا ټول یو شان او یوه معنی لري مګر دا یو ډول داسې
تیروتنې دې چې موږ یي نه احساسوو او په تدریج او مسلسله توګه
زموږ په ټولنه کې دود او حتې علمي بڼه یي خپله کړې ده
زه درته دلته د داسې دوو کلیمو یادونه کوم چې عیناً همدې موضوع
ته ورته بحث دي
زموږ او ستاسو په ټولنه کې فکر او تصور تل په یوه معنې استعمالیږي
او هرڅوک چې فکر ته تصور او تصور ته فکر ووایي سم دي مګر ددې
دواړو کلیموترمنځ داسې توپیر شتون لرې چې که وڅیړل شي نو
دقناعت وړ ګرځي
فکر یوداسې احساس او ذهني مسایيل دي لکه یو څوک پریوه داسې
موضوع فکر کوي چې هغه په عملي او مادې لحاظ تصویر نلرې مثلاً
یو څوک دشعر لپاره فکر کوي د ذهن په فضاء کې دشعر کافیي او
ردیفونه راټولوي او داسې نورې موضوګانې چې تصویرته اړتیا ونلري
مګر ددې برعکس تصور هغه فکر یا ذهني احساس دی چې څوک
دفکر سره سره دهمغه شي تصویر هم په ذهن کې ولري یا دفکر په
کولو دیوه شي تصویر جوړي مثلا یو څوک دیوکور دنقشې په اړه



(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوي هغه ټوله نقشه په ذهن کې جوړوي یا یو څوک دیو ښار نوم او دښکلا صفتونه اوري مګر ښآر یي لیدلي نه وي نوموړي هرو مرو دهغه ښار ښکلې نقشه دذهن په کاغذ رسموي او هر لوری یی هم ټاکي

راځو خپلې اصلي موضوع ته چې همدې ته ورته موضوع ده یعنې دګرانښت ډولونه

ګرانښت په عمومي توګه درې اړخونه لري چې له مینې، محبت او عشق څخه عبارت دي

کیدی شي چې تاسو فکر وکړئ چې پورته درې کلیمي یوه معنې لرې مګر دا تیروتنه ده

ځکه هر کلیمه ځان ته معنې لري چې دبحث او څیړلو وړ ده

لومړی باید د(محبت) په لفظ خبرې وکړو چې داکوم ډول ګرانښت دی.

محبت: دا هغه ډول ګرانښت دی چې (عشق) ورڅخه مستثنی دی خوخپله (محبت) د (مینه)ساحه هم په بر کې نیسي

یعنې مینې ته محبت او محبت ته مینه ویلی شو مګر عشق ته محبت او محبت ته عشق هیڅکله نشو ویلای

محبت داسې ګرانښت دی چې دزړه له منځ څخه راوځي لکه دخدای سره محبت،درسول سره محبت، دمور سره محبت، دپلار ،ورور، خور او داسې نورو ورته اشخاصو ګرانښت دمحبت په نوم یادیږي خوکه



(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه ورته ووایو څه بده خبره نده بلکې محبت ددې ګرانښتونو اصل نوم دی

عشق: عشق داسې یو ګرانښت دی چې محبت ورته په هیڅ صورت سره نشو ویلای خو مینه پکې ده او که مینه ورته ووایو نو لږڅه سم یو دعشق ګرانښت تل دډیر خوند ځان غوښتنې لپاره وي داډول ګرانښت د دښځې او خاوند ترمنځ وي یعنې هغه اړیکه چې دښځې او خاوند ترمنځ وجود لري دعشق په نوم یادیږي

خو دا اړیکه که دښځي او خاوند وي او که دبل چا سره خو اصلاً دغه اړیکه عشق دی

موږ نشو کولای چې ووایو چې دخدای سره عشق لرم یاد مور سره عشق لرم دا دقیقاً تیروتنه ده

مینه: دا ترټولو مشهور ګرانښت دی چې تقریباً دګرانښت ټول اړخونه لدې څخه منځ ته راغلي دي مګرمینه هم ځان ته صنف لري او په مربوطه صنف کې یې مطالعه د وس څخه دباندې بحث دی خودلته به موږ پدې کمه نغوته بسنه وکړو چې مینه دعشق او محبت ترمنځ هغه سرحد دی چې پکې هم دمحبت او هم دعشق ځواکونه وجود لري او غواړي مینه خپل ځان ته کش کړي هغه بیا دیو انسان دګرانښت په کړنلارو پورې اړه لري چې دمحبت ځواک پرې بریالی کیږي او که دعشق.



# متمرکزه ښکلا

په ټولنه کې مو د افرادو اکثریت داسې دی چې په خپل ژوند او چاپیریال کې په یوه اړخ دښکلا تمرکز کوي، ددې ډول عادت ځینې تاوانونه لیدل کیږي چې په مشخص اړخ او دژوند په نورو اړخونو مستقیم او غیر مستقیم تاثیر لري.

مثلاً ځینې خلک په ژوند کې یواځې پرمانا متکي وي، دا کار دوی ته له غوره او نیکو کارونو ښکاري او ځان سپیڅلی او پاک ستره حسابوي، یانې زړه یې پاک، سپیڅلی او سم وي، دا ډله په دې نظر ده چې که څوک په ښکاره ډول بداخلاقه، دورغجن او نا اهله ښکاره شي کوم باک نشته، خو چې دانسان باطن او زړه پاک وي، حال دا چې هغه درس چې د افرادو په ښه لید او شخصیبت معرفي کې، ټولنې ته موجود دی دټولنې په اصلاح کې رغنده او مستقیم رول لري.

ځینې خلک بیا په دې نظر دي چې انسان باید په ټولنه کې په ښکاره ډول پاک او با احلاقه ښکاره شي، پروا نکوي که د مانا په لحاظ بد او ناوړه وي.

دا خلک په خپله باطني ناولتیا اعتراف کوي یانې دا مني چې موږ تور یو ولې بیا دا دځان ښیګڼه بولي چې په سپینه جامه کې ګرځي، دوی په دې اند دي چې که موږ خپلې سپینې جامې له تنو څخه ښکته کړو او دخپل شخصیت تور بدن ښکاره کړو نو لرې نه ده چې په ټولنه به



(c) ketabton.com: The Digital Library



دجهالت تپه تیاره راخوره شي، ددې ټولي داخبره چې : زموږ دظاهري ښکلا په تمرکز کې د ټولنې له پاره پیاوړی نصیحت پروت دی او شته نسل زموږ په لید داصلاح کوښښ کوي یو څه سمه ده، ولې دلته ددوی دباطنې روح ناولتیا په خپله دټولنې پرناولتیا دلالت دی، ځکه دوی هم دهمد ې ټولنې یو غړی بلل کیږي.

دا دول پېښې زموږ په ټولنه کې په سلګونو بېلګې لري چې یو څوک د په ژوند کې په یوه اړخ دښکلا تمرکز وکړي.

مثلاً: ځینې خلک دي چې په ټولنه کې خپل بهرنی رول تقویه کوي، ولې ددې برعکس خپل داخلي اوکورنیز رول ته هیڅ توجو نه ورکوي، دوی غواړي له کوره بهر ځان لوړشخصیت، کدر او پرمختللی معرفي کړي، حال دا چې په کور کې یې هغه دچا خبر ه دموږک لکۍ نه لړل کیږي، دا ډول تمرکز نه یواځې دا چې دکور دخلکو په مقابل کې ظلم او تیری دی بلکې ډیر ژر افشا کیدونکی هم دی.

ددې ډول ښکلاییز تمرکز دا مثال هم کیدي شي چې، ځینې خلک یو مشخص چاپیریال دښکلا تر اغیزې لاندې راولي، دا خلک خپل اصلیت او شخصیت دخلکو له سترګو پټوي، ولې هر کله چې افشا شي دده دبد چاپیریال اغیزه، دده پر ښه چاپیریال هم لویږي.

دبېلګې په توګه یو فرد دخپلې دندې چاپیریال پاک ساتې یانې خپل هم مسلګه ملګرو ته ځان لوړ کدر، صادق، با احساسه او دروند ښکاره کوي، حال داوي چې په کور کلي او ددندې څخه پرته پر نورو



(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپیریالونو کې دخپل شخصیت هیڅ پروا نه ساتي، دا فرد کیدی شي چې دده دندې نیک چاپیریال دده اصلیت راپه ګوته کړي، نو دخپل نیک او غوره شخصیت پټولو په ځان کې ددې سبب شي چې په کلي او نورو ځایونو کې یي خلک دبد انسان په توګه وپیژني او یا هم هیڅ دده غوره شخصیت ته قایل نه شي.

داسې هم کیدی شي چې دندې چاپیریال یي هسې یو تمثیل وي، نوموړی په حقیقت کې هما غسې نااهله وي لکه چې په کلي کې یي خلک بولي، نو که داسې شوه لېرې نه ده چې ددندې غړي به دده په دې لویو دروغو خبر شي او ددندې به یي ګوښه کړي.

د متمرکزې ښکلا ډېری کوچني مثالونه هم شته مثلاً ځینې خلک په لباس کې فقط په ښایسته جامو تمرکز کوي، یا هم په ښایسته بوټانو تمرکز کوي.

که د مانا له دریځې ورته ځیر شو نو ځینې یي غواړي فقط ښې خبرې وکړي، عمل کول ورته مهم نه ښکاري، ددې برعکس ځینې بیا عمل کوي او له خبر کولو ډډه کوي، چې دا ټول تمرکزونه فقط دژوند په یوه اړخ دي او ډېرې بدې اغیزې لرلای شي.

هدف مې دښکلا دتمرکز دشننې ځخه دا و چې، انسان باید دژوند هر اړخ ته پام وکړي، او هغه تمرکز او خواري چې په یو اړخ یې کوي باید ټولو اطرافو ته یې وویشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلور پالیسۍ

ځینې حقیقتونه هم باید پټ وي، که ښکاره شي؛ نو غیر حقیقي (دروغو) څخه ډېرتاوان رسولی شي.

دا بېل بحث دی، چې د حقیقت په ښکاره کولو څنګه ټولنه زیانمنه کیږي، په داسې حال کې چې حقیقت حقیقت دی، مګر زموږ موضوع د حقیقي او غیر حقیقي خبرو د پټولو پالیسۍ یا لارې چارې دي.

رښتیا یا غیر رښتیا خبرې پرده کول (د معنوي امانت ساتل) هغه څه دي، چې په ټولنه کې ډیرې پېښې ورسره جبرانیدلای شي.

نو ددې لپاره چې دا لارې چارې مو د ژوند په لار او دار کې په کار راشي لږ راسره پاتې شئ او دا څلور پالیسۍ ولولئ، خو باید یاده کړو، چې په پالیسیو کې ټول زور په احساس ورکولو وشي.

**معمول ساتل(لومړۍ پالیسي)**: دا پالیسي بیخي معمول ده، عامه ده، اسانه ده ، اکثره خلک لدې پالیسیو کار اخلي، څکه له دې لاندې بله پالیسي نلرو.

ددې پالیسۍ جوړښت اسان دی، فقط ساتلو یانې هغه څه پټولو کې تمرکز دی، چې ته یې پټوې یا هغه څه ښکاره کولو کې دی، چې ته یې ښکاره کوې.

ددې پالیسۍ لاسته راوړنه عادي وګړو کې یو څه ښه ده، خو په پوهو وګړو کې ورڅخه کار اخیستل په خپله لودګي ده.



دا داسې ده؛ چې که یو څوک غواړي یو څه پټ وساتي، نو پټ یې ساتي، یانې یوه پټه دنده لري، نه غواړي څوک پرې خبر شي، نو پس هېڅ کله هم دهغې دندې اړونده خبرې نه کوي.

د بېلګې په ډول؛ یو څوک غواړي په ټولنه کې ځان نیک سړی ثابت کړي، نو د لومړی پالیسی څخه د کار اخیستل؛ په دې پالیسی کې دده لپاره ښایي چې نیک کارونه وکړي اوبس.

**غیر معمول ساتل(دوهمه پالیسي)**: نړی اکثره انسانان له دې پالیسی څخه کار اخلي، نسبتاً اسانه، او په عادي وګړو کې سل سلنه نتیجه ورکوي، همدارنګه په دټولنې په فکر لرونکو وکړو کې یې هم نتیجه یوه څه ښه ده.

جوړښت یې پیچلی دی، ولې مفهوم ته رسیدل ورباندې دومره سخت نه تمامیږي.

په دغه پالیسی کې یو څو دمعنوي امانت ساتلو، یا د یو څه پټولو، یا هم په ټولنه کې د خپل انتخاب شوي شخصیت د تثبیت لپاره داسې کړه کوي، چې مقابل لوری پوهوي، یانې په واضحو الفاظو د خپل کړه اعلان کوي او غواړي هغه پوه کړي چې زه دایم.

دا اعلان او پوهول به په داسې میتود وي ترڅو مقابل لوري ته دا احساس هم انتقال شي چې نوموړی دروغ وایي، یانې په پالیسیو کې ترټولو مهم رکن داحساس انتقال دی، یوه پالیسي هغه وخت د بریا



(c) ketabton.com: The Digital Library



حد ته رسیدلی شي، ترڅو د پالیسۍ اړونده احساس په ښه ډول انتقال شي.

کله چې موږ د دوهمې پالیسۍ د کارولو لپاره اړ کیږو، حتمي ده چې اشد ضرورت به وي.

د بېلګې په توګه؛ که څوک یوه مشخصه دنده پټه ساتي؛ دا پدې مانا چې ددې دندې ښکاره کیدل؛ نوموړي ته ضرر روسونکي دي، نو دلته احساس انتقال بیخي په ښه ډول صورت نیسي، یانې که ته دهغه دندې په اړه واضح اعلان کوې او په زغرده زیان په سر اخلې، په داسې حال کې چې پوه او عقل لرونکی شخص یې، نو حتمي ده چې دروغ دي، ځکه هیڅوک هم ځان خپله د تاوان کندو ته نه غورځوي.

دبېلګې په ډول؛ یو څوک دنده لري چې د یوې موضوع «پټ» راپور خپلې ادارې ته ورکړي، هرکله چې د دندې داجرا وخت شو؛ یانې کوم راپور یې پیدا کړی، نو مقابل ته په ډېر ښکاره ډول خو په ډېر چل او مسخریېز انداز؛ نارې وهي، چې زه مو راپور اخلم.

مثلاً یو فرد یې د مخالفینو سره په مرسته ولید؛ دپالیسۍ خاوند ورته ددې خلکو بدې بیانوي اوپه واضحو الفاظو ورته وایې؛ چې دې خلکو سره کار مکوه، او په مقابل کې ورته خپله ډله ستایې، له ځان هم ورته وایې؛ چې زه هم ورسره یم، ورپسې جوخت داسې یو عمل یا خبره

کوي، چې دخپلې ډلې جداً خلاف وي، ترڅو مقابل لورى دده «کړي» خبرې په يوه مسخره او په خپله ډله د تاکيد په مانا ومني.

که يوه بله بېلګه يې ولیکو: يو څوک غواړي خپله پوهه په ټولنه کې تثبيت کړي، يانې په شته افرادو ځان ومني.

په لومړۍ پاليسۍ کې بايد د يو علمي او کادر شخصيت په څير واى، خو په دوهمه کې بايد په ټوله مانا ورڅخه خلاف وي، يانې د ساده، کم عقلو او وروسته پاتې په څير واوسي، خو په همدې ساده توب کې د خلکو لپاره د احساس پيغامونه ولري او داسې نادر کارونه وکړي، چې د چاپيريال حيرانتيا ځآن ته راجلب کړي.

د بېلګې په توګه؛ يو څوک د يوچا سره مينه لري، او غواړي چې هغه ته ځآن وښايي؛ چې درسره څومره مينه لرم، برعکس دده عيبونه او نادودې پلټي او دده ترمخ کوچنۍ کوچنۍ بدۍ راخلي او يوه - يوه ورته په داسې ډول تشريح کوي، چې بدي له خپل وزن څخه څو برابره لويه کړي.

دمثال په توګه دده رنګ، دده دخندا شکل، دده د جامو رنګ، د پخوانيو بوټونو رنګ، شکل او کيفيت او دده دملګرو مالومات، زور په زېر ورته يادوي او نيمګړتياوې يې ورته په ګوته کوي، ترڅو نوموړى پوه شي، چې څومره ډيره مينه راسره لري چې له سر ترپايه مې پيژني.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریمه پالیسي یا غیر معمول، معطل ساتل**:ددې ډول پالیسۍ جوړښت اسان، خو مفهوم ترې اخیستل خورا سخت او پیچلي دي. ډېر کم، دګوتو په شمار، یوه او ځیرک افراد یې په کار وړلی شي.
ددې پالیسۍ میکانیزم هو بَهو د لومړۍ پالیسۍ په څیر دی، مګر دلته مقابل لوري ته په احساس ورکولو ټول تمرکز کیږي.
په لومړۍ پالیسې کې به که یو چا یو پټ فعالیت ترسره کولو، نو دهغې په اړه به یې هیڅ نه ویل. په دوهمه کې به دنوموړي فعالیت په اړه علاني کیسې کیدلې، خو په عمل کې د احساس تولید به یې مقابل لوري ته غبښتلی اطمنان ورکولو چې نوموړی دروغ وایي.
په دریمه پالیسۍ کې احساس ورکول د دوهمې پالیسۍ څخه را اخلو او عمل ویل د لومړۍ پالیسۍ.
لنډه داچې؛ دلته انسان د خپلو یا د ټولنیزو بریاوو لپاره له ځانه درې مخې جوړوي، یو مخ یې د عمل وي، دوهم مخ یې د ویلو او دریم مخ یې په عمل او ویلو کې د احساس تولید، چې ټول د مرکزي هدف څخه خلاف وي.
یوه بېلګه یې په دې ډول لیکو:
یو فرد خپله استخباراتي دنده پټه ساتي( لومړۍ پالیسي)، خو خلکو ته په یو نه یوه ډول دا جوته وي چې زه دا دنده پټه ساتم( دوهمې پالیسۍ علاني پیغام) یانې د خلکو د ګمان واکې په لاس کې اخلي او



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دېته عياروي، چې دده په دنده يواځې ګمان قدر وکړي، له دې دواړو پاليسيو کارولو وروسته په ښکاره ډول په خپلو کړنو کې داسې احساس خلکو ته انتشاروي، چې دا هرڅه دروغ دي او نومړی دځان ښودنې لپاره داسې کړنې کوي، چې په نتيجه کې هدف ته رسيږي او چاپيريال د فيل په غوږ کې خوبولې پر بږدي.

بله بېلګه:

يو څوک په ټولنه کې يو سياست مدار ځان پېژني او غواړي خلک يې د يو پوه په حيث ومني.

(دلته يوه موضوع ډېره مهمه ده، کله موږ يوه پاليسي؛ دکوم هدف له پاره په لاره اچوو، بايد هدف حقيقت ولري) ياني په دغه بېلګه کې يو شخص پوه سياست مدار دی، يواځې زموږ پاليسي ددې له پاره په کار وړل ګيږي چې په ټولنه  کې په رښتيا سره په خلک و ځان ومنو.
لومړی بايد د لومړی پاليسی په څير ځان پوره سياست مدار څرګند کړو، وروسته دوهمې پاليسی ته راګرځو او دلته ځان په سياست ګرم، ناپوه او نه خوښوونکی ښايو، خو په ټولو کړنو  کې د چاپير يا مقابل له پاره داسې احساس توليدوو، ترڅو وښايو چې موږ په رښتيا سره سياستمدار او پوه يو.


ددې پاليسي د لا تحقق لپاره نورې بيلګې هم راوړل، اړتيا ده، ځکه زده کول او په ژوند کې يې فرمول کول خورا سخت دي، موږ په همدې بسنه کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه پالیسي یا مجتمعه معطل ساتل:** زه نشم کولای د قلم په وزله دا پالیسي واضحه کړم. کیدای شي په ویډیو یي او غږیز ډول یي یو څه وضاحت وکړای شم، مګر لنډ وایم چې د درې واړو پالیسیو په مختلف او مختلط ډول کارول دي او کیدای شي، چې په څلورمه پالیسۍ کې له یو چا آن خپل هدف ورک شي او په بله سر شي.
۱۳۹۴-۱۰-۵



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مانې زرات

ځينې وختونه داسې ناڅاپني پېښېږي چې پخواني يادونه د انسان زړه ته راشي، د يوه څه په ليدو داسې څه زړه ته ورشي چې دهغه سره هېڅ تړاو نه لري.

کله کله به داسې هم پېښ شوي وي چې يو چا په ليدو مو داسې خبرې زړه ته راغلي وي چې دهغه ليدو سره هيڅ اړيکه نه لري.

ايا ددې پرفلسفه پوهيږئ؟

داسې هم شوي چې ستاسو په زړه کې يوه خبره وي؛ غواړی يو چا ته يې وکړئ، خو کله چې ورسره مخامخ شوي ياست نو مخکې له دې چې تاسو خبره ځرګنده کړئ، مقابل لوری په هماغه خبره ستاسو سره بحث کوي، دا موضوع تاسو ته ډېره جالبه تماميږي او فقط د يو نادر تصدف په نومولو سره يي هيروئ.

پورته خبرې ټولې د يو دعلت په بنسټ ولاړې دي. په تصوف کې د وحدت الوجود او حدت الشهود فلسفه هم دې ته ورته ده، مګر په ټولنيزه شننه کې بايد داموضوع د مانې دزراتو په نوم ونوموو.

مانا د مادې ضد ده، خو دا چې دولې؟؛ دليل يې دادی چې ماده د زراتو ټولګه ده او مانا مايع، غاز او جامد شی نه دی بلکې د حواسو تثبيت دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکنې عنوان د (دماني زرات) دی چې دا زرات د مادې له زراتو توپیر لري او د حواسو سره د لمس اړیکه نیسي.
که انسان دقیق فکر وکړي او دماني ژورو ته ځان ستون کړي نو حتمي پوهیږي چې د هرې موضوع سره، کومه چې زموږ په ذهن کې وي زرات موجود وي.
په یوه نیږدې ټولنه کې د افرادو زرات په تقریبي ډول سره شناخته(پېژنګلوي) وي، او یو تر بله احساس کیدونکی حاصیت لري.
دلته یوه بله پوښتنه مخې ته راځي، کله چې په یوه ټولنه کې دزراتو د احساس کیدو خبره جوتیږي، نو ولې موږ د ځینو خلکو په رازونو نه پوهیږو؟
دا بحث اوږدیږي، لومړی باید دا ټکي ومنو چې د سکالوګانو زرات داسې شناخت لري چې موږ یې نه شو درک کولی؛ یانې کله چې زموږ د ذهن چاپیریالي زرات د نورو افرادو دزراتو سره په تماس کې شول او سره ویې پیژندل، نو دا مانا نه لري چې موږ د هغه پر راز پوه شو، زموږ درک؛ ذهن، زړه، عقل او احساس دی، مګر د زراتو پیژنګلوي زموږ سره هیڅ تړاو نه لري، په دې مانا چې دوی یوه بله نړۍ لري.
دلته یوه بله پوښتنه مطرح کیږي؛ ولې موږ ځینې موضوعات د زراتو په تماس درک کولای شو او ټول نه شو درک کولای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی داخبره چې د مانې دزراتو په تماس سره فقط نادر او نااشنا احتمالات د درک او زهن ته دفتره رارسي، نور ټول همداسې عادي تيريږي.

بېلګه يي داده چې که په چاپيريال کې مو چا ساده او کلتوري کالي اغوستي وي نو ستر ګې مو ورته تم کيږي نه او نه غواړئ په اړه يي مالومات ولرئ او يايي هم لرئ، مګر که يو چا ښکلي او له دوده خلاف لباس کړی و، نو حتمي ده چې د ښکلا او بدرنګی او يا د قيمت او ارزښت په اړه يي د زهن پلټنې صورت مومي او کيدای شي همغه کس ځخه يي په اړه پوښتنه هم وکړئ، نو د موضوعاتو ماناوې هم همداسې د انسانانو دسرپر چاپيريال ګرځي، که چېرې نادرې، تازه، پخوانی او جالبې موضوع ګانې وې نو عقل ته راپور ورکوي او کنه نو له تماس وروسته يي هيروي.

يا کله چې يو څوګ تاته يوه کيسه کوي، کله چې د خبرې سر واخلي نو تاسو سمدستي ورته وايئ؛ دا خبره ماهمدا اوس تاسو ته کوله، دلته ته حيرانيږې؛ دا هم د مانې دزراتو يو دليل دی.

بله پوښتنه داپيدا کيږي چې داهنر او کمال د چا دی چې لومړی خبره يي وکړه؟

د بېلګې په توګه: ستا يو ټولګيوال تاته کالونه وروسته په ناځاپي ليد سره د ښوونځي يوه خاطره وايي؛ کومه چې هيڅ مهمه نه ده، خو جالبه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ته همدا ټولګیوال وینې مخکې له دې چې دی درته خبره پیل کړي، ته ورته د همغې خاطرې په اړه څو کیسې وکوې.
منځور مې دادی چې ایا دا ستا کمال دی چې دده په زړه کې خبره درک کړه او ودې ویله، او که دده کمال دی چې دا خبره یې تاته یاد ته دروستوله؟
پریکړه اسانه ده، ټول هنر د مقابل لوري دی، ده یاد ته دروسته، د ځان په چاپیریال کې دهغه خاطرې مادې زرات راټولو او تاسره په تماس کې کول؛ ټول کمال دده و، که نوموړی راغلی نه و، نو تا نه شول کولای چې دا خاطره یاده کړې.
۸-۱۰-۱۳۹۴



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هدف لار

ځینې خلک په ژوند کې ځانګړي اهداف لري، او غواړي ځان ورورسوي. د ژوند دبریا راز هم همدا دی چې انسان هدف وټاکي او تل هغه ته د ځان رسولو په لټه کې شي.

هو؛ ژوند هم ژوبل دی او هم ژمنتیا، ځینې په لاره کې پرېږدي، ځینې بیا هدف ته ورسوي.

د ژوند بریا په دې کې ده چې هدف ته ځان ورسوو، هاند او هڅه وکړو او کوټلي ګامونه واخلو. خو ځنګه کولای شو هدف ته ځان ورسوو؟ چې دا یو بل هدف کیدای شي.

یانې هدف ته درسیدو لپاره یو بل هدف ټاکل په کار دي چې ترڅو هدف ته مو ورسوي، چې دا هدف د هدف دلارې د طی کولو هدف دی.

دا به له تاسو سره د هدف تر لاسه کولو کې بیخي ډېره مرسته وکړي. که د دې مسلې ربښې وپلټو نو پوهیږو چې هدف ته رسیدو له پاره ترټولومهمه داده چې د هدف لاره طی کړو. د بېلګې په ډول یو څوک غواړي ترکابله لاړ شي، ایا دا امکان لري چې کابل دې دلته ورته راوړل شي؟، نه؛ بلکې نوموی اړ دی چې ترکابله تللې لاره طی کړي ترڅو کابل ته ورسیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



دهدف لار هم همدا مانا لري، یانې هدف ته د رسیدو لپاره مو ټول تمرکز د هدف  دلارې پر طی کولو وکړو، چاپیریالي ستونزې او نادودې یې تحلیل کړئ، ترڅو هدف ته ورسېږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مینې مینه

له انسانانو سره مینه، له اجسامو سره مینه او آن له ځان سره مینه هم یو وخت له منځه تللی شي او یا هم کیدای شي کمه شي، مګر له مینې سره مینه بېل کیف او احساس لري.

له مینې سره مینه داسې مثال لري لکه روح چې نه مري، د نړۍ له مادو سره( انسان، اجسام...) سره مینه داسې ده لکه ژوندی بدن، چې د روح له وتلو وروسته په ټوله مانا نیست شي، مګر له مینې سره مینه ارواه ده، نه مري او نه هم کوم بدلون لري.

هو؛ تل داسې واووسه چې سپک شې، وشرمېږې او خفه شې، ځکه ته یوه لویه قرباني ورکوې چې له هغه له مینې سره مینه ده.

دخپلې مینې تولید هغه چې له ځانه دې کړی وي صادروه او وررسره مینه کوه.

تل هڅه کوه چې د نورو نفرت لرونکی عکس په مینه العمل کړې، ځکه د انسانانو په ختټه کې مینه اغږل شوې، خو دا یخ شوی احساس تودول او ویلې کول غواړي چې دې ته له مینې سره مینه وایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خپل شعر کتنلیکنه

پښتانه لیکوالان د ادب د اوږدې مخینې سره - سره لا تر اوسه هم د پنځونې له غربت او کختی سره مخامخ دي. تحقیقاتي اثارو، مأخذ کارونې او د ادبیاتو زړو اصلونو یې مخه ډب کړې ده.

د ادبیاتو د پوهنځي محصل د خپلې سکالو د مونوګراف کولو لپاره، زاړه او سولیدلي افکار لټوي او لیکې یې. که دا کار دوام وکړي نو لرې نه ده، چې د پښتو ادب ملغلرې به په یو او بل تار کې پیيلو سره زړې او تکراري شي.

ددې لپاره چې نوې پنځونې او نوښتونه مو په ادب کې رامنځ ته شي او خپل افکار وساتو، نو پر خپل شعر کتنلیکنې اړینې ښکاري.

شعر او شاعر د مضمون له پلوه یو نادر تناسب لري، چې په خپله شاعر یې پېژندلی شي. کله چې یو شاعر شعر لیکي، نو احساساتو داسې ماناوې ژباړي چې په نثر کې یې نشي ځایولی، د پنځګرې او نوښتيزې لیکنې لپاره د لومړي لاس عناصر په شعر کې د شاعر د احساساتو او ډوبو خیالونو ژباړې دي.

کله چې ماناوې د شعر په ترکیب کې راغلې، نو لیکوال یې د نثر کالبونو ته هم ترلی شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو شعر شننه او څیړنه ځومره خوندوره وي!، ځومره ډېرو ماناو او خیالونو ته مو وړي!، ولې هرڅوک نشي کولای او نه هم اصول دا اجازه ورکوي چې د یو چا په شعر کتنلیکنه وکړي.

په خپل شعر کتنلیکنه به دېته زمینه برابره کړي چې هر شاعر لیکنه وکړي، چې په دې سره به یې افکار روښانه شي او پنځونې ته به لارې هوارې شي.

په خپل شعر کتنلیکنه ځکه اړینه ښکاري، چې شاعر په ډاډه زړه خپل خیالونه لیکي ځکه شعر یې خپل وي.

که دا صنعت دود شي، ډېر پیاوړي افکار او مضمونونه به مو په ادبیاتو کې خوندي شوي وي.

د بېلګې په ډول؛ که د استاد پسرلي په بیت څوک لیکنه کوي، نو لیکنې به یې په ډار سره وي، نه په ډاډ سره، که لیکوال ډېر زور هم وکړي، نو فکر نه کوم چې د مانا هغې ژورو ته دې ورسیږي کوم چې د استاد پسرلي په ذهن کې ګرځیده.

عوام اوس هم په دې عقیده دي، چې د عبدالرحمن بابا تصوف د نورو په نسبت ستر وګڼې، ولې د حمزه د تصوف رېښې یې نه دي پېژندلې.

که حضرت حمزه په خپل شعر د کتنلیکنې ټولګې درلودلی، نه یوازې دا چې دده سبک به مو په سم ډول پېژندلی وای، بلکې دده هغه صوفیانه افکار چې اوس ورباندې د خاورو امبارونه پراته دي، تراوسه خوندي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په معاصره دوره کې هم داسې شاعران شته، چې شعر یې د ماناوو ژورې فلسفې لري، ولې اوریدونکي او لوستونکي یې یواځې په واه - واه ، تېروي او هېروي یې.

شاعر دا جرات نشي کولای، چې په خپل شعر کې، په خپلو خیالونو، تشبیهاتو، استعارو، سمبولونو... او نورو اړخونو هغه احساس ولیکې په کوم احساس چې ده شعر لیکلی.

په خپل شعر د کتنلیکنې په نه لیکلو سره، پر ځینو شاعرانو بېلابېلو فتوې ولړېدې، په مذهبي، ادبي،ټولنیزو افراطونو او تفریطونو تورن شول.

ځېنې بیا دا موضوع( په خپل شعر کتنلیلکنه) ځان پرستي او شهرت بازي بولي، خو دا خبره منل په خپله خپلو خیالونو وژل او تحقیرول دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبلنی سترګی

ځینې خلک چې وژاړي، سترګې یې اوبلنې شي، هو خوږې ښکاری، سپیسلتیا اومعصومیت پکې وي.

دا ډول اوبه چې دغم او ژړا له امله په سترګو کې زرغونیږي، سپین شفاف رنګ لری.

ځینې خلک چې ډېر خوښ شي، یا هم ډېر وخاندي، په سترګو کې یې اوښکې راشي؛ دا ډول اوبه هم په سترګو کې یو ډول ځلا پیدا کوي، دا اوښکې د ژوا له اوښکو څخه لږ څه سختې ښکاري، رنګ یې هم له هغه تت تیاره سپین وي، د ډیرو کمو انسانانو دمینې جذبې راپارولی شي.

دریم ډول اوبه هم؛ قهوایي سوربَخونې اوښکې دي، دا ډول اوبه دانسانو په سترګو کې د کوم عمل په سبب نه راځي، لکه ژړا یا خندا؛ بلکې دا اوبه دمینې د احساس له امله دسترګو په چینو کې راخوټکیګي، دسترګو کنارې ورسره ګلابي، زرینې شغلې کوي. په لیدو یې دمین د زړه ارمانونه خړوبیږي، غمونکي فکرونه یې له ذهنه الوت کوي او مین له ځآن سره یوې بلې نړی ته وړي.

هلته د مینې پر ورشو ګانې ورګډیږي او د ژوند په اسحلونو کې ګرځي، مین دمعشوقی په اوبلنو قهوایي سترګو کې دمحبت ماهیان سروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلا پېژندونکی سړی

**بدرنګه ښکلا او ښکلي بدرنګي**

سړی ګګر سر په کمپیوټر ورټیټ و-

ته به وایي؛ د انجینري کومه ګرانه پروژه ډیزان کوي-

ناڅاپه نیغ شو، په اوتر انداز یې داسې وه انګیرله، چې کوم ښکلی بوی یې احساس کړ-

سترګې یې پورته کړې-

مخامخ ورته برګ مرض وهلی سړی راروان و-

نیمه غړل شوی، پکول یې پرګډو وډو ځنو ایښی و-

کمپوټر ته د ناست سړي رنګ وغوړیده-

مُسک شو ،له چوکۍ پورته شو-

سړی یې په غیږه کې ونیوو-

دمینې پرخبرو یی ونازوو-

دشنه چایو پیاله یې ورډکه کړه او اړونده کار یې په اخلاص ورته وکړ ؛خیرن سړی لاړ.

سړي بیا کمپیوټر ته سترګې خښې کړې-

شېبه وروسته بیا اوتر شو-

ککره یې د «اوف» په ډول وښوروله-

بد احساس یې وکړ-

سترګې یې پورته کړې-



یو ښاسته ځوان یې مخې ته راروان و-

تکو سپینو جامو یې  سترګې بریښولې-

درې رنګه بیرغ ډوله؛ شیشه یي تسبې یې په لاس کې اړولې-

ځان یې په عاجزۍ کې انځوراوه-

له رنګ شریف ځوان لیدل کیده-

کمپیوټرکار ته راورسیده او په ډیر ادب او احترام یې سلام وکړ-

او پر خپل ځای ودریدو-

کمپیوټر ته ناست سړي په کمپیوتر کې سترګې ګنډلې وې او په ډیرې بې احترامۍ یې فقط وعلیک ورغبرګ کړل-

ځان یې ښه بوخت حسابوو-

ولاړ ځوان څو ځله د یوه څه د لاسلیک کولو ورته وویل، خو ناست سړي هیڅ پروا وربانديې خرڅه نکړه-

ولاړ سړي په ادب وویل:

فکر کوم وزګار نه یې!؟

بل وخت بل وخت به راشم، او لاړ.

***حیران شوم، ورغلم او ومې ویل:***

پوه نشوم استاده!

اسویلی یې وکیښ؛ ویې ویل:

په ژوند کې مې دا دوه هنره زده دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دا چې دلته ناست یم او خلکو ته عرضې لیکم او ددندو فورمونه ډکوم
او بل دا چې ښکلا پیژنم!.
خو؛؛
تر ټولو مې بدرنګه ښکلا او ښکلي بدرنګې ډېر زوروي، ځکه دبدرنګې ښکلا سره کینه لرم او دښکلي بدرنګی سره مینه.







(c) ketabton.com: The Digital Library



## مجازي مينه؛ حقيقت ته نيږدې ده؟ که هوس ته؟

له کله نه مې چې عقل خپوړې پيل کړې دي، د مينې او ښکلا پر فلسفه ييزو شننو مې خيال راغلی.

دا ګراف هغه وخت لا پسې لوړ شو، چې څو نيږدې ادبي ملګري مې پيدا کړل، چې همېش مو د ليدن موضوع د مينې او ښکلا پر پيژند چورلي.

تل په دې بحث کوو، چې مينه د حقيقت وړم دی او ښکلا د ستر حسن(څښتن تعالی) تته جلوه ده، چې دده په خلقت کې ښکاري.

خو د بحث موضوع مو په مينه او ښکلا کې افراط او تفريط او د همدې لارې خنډ، کليات او جزيات رڼا کول وي.

پوښتنه داده چې مينه دحقيقت غړ او وړم وي، ښکلا د ستر ذات زره ده، نو ولې يې ډېر دبريا تر پولو نه رسي؟ او هغه چې دبريا تر ساحلونو ورسيدل، ولې د هوس له دريابه شرموونکي څپې راغلې اوډوب يې کړل؟!.

معمولاً انسانان درې ډوله مېنه پالي؛ حقيقي(عرفاني) مينه، نفسي مينه (هوس پرستي) او مجازي مينه.

طبعي ده چې نفسي مينه به انسان، دروني تيارو ته ستون کړي او عرفاني مينه به مو د حقيقت اساسي جزيرو ته ورسوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان فطرت؛ هغه چې پاک وي، له هوسه فنا غواړي او بل اړخ، صوفیانه مینه؛ سپیڅلی چاپیریال، کلک ایمان او ساتلی عقل غواړي، چې د ډېرو انسانانو لاس ورته نه رسیږي.
انسان خودکار؛ دمجاز په مینه کې ننوځي او د غم او خوند لارې طی کوي. پیژندونکي همدا مجازي مینه دحقیقت لاره بولي او انسانان داده کوي، چې په سمه دي!.
دا ناسمه خبره ده، چې مجازي مینه انسان حقیقت ته رسوي او دا تردې هم ناسمه ده، چې مجازي مینه انسان حقیقت ته نشي رسوی.
انسانان د طبعیت له مخې ستر ـ ستر توپیرونه لري، د خپرې او کړنو له مخې؛ هوس پرسته انسانانو ته مجازي مینې د ښه توب فتوا لویه تېروتنه ده او هغه انسان چې په واقعي ډول د مینې او ښکلا په ژورو فلسفو پوهیږي او د افراط او تفریط پر تناسب جوړ وي، حتمي ده چې مجازي مینه به یې تر حقیقته رسوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای(ج) ذرې

د ښکلا او مینې په اړه لیکل او شننې دوه لید لوري لري، یا خو بیخي تکراري بلل کیږي او یا تر هرڅه تازه او نوي.

دا ډول لیکنې به تکرار څکه وبولو، چې د نړی او انسان د پیدایښت سره؛ ښکلا او مینه هم پیدا شوې او هم درک شوې ده.د انساني تاریخ په شالید کې د ښکلا تاثیرات او اېفکټونه جوت او لا تر اوسه یې ګورو. د ګرانښتیزو تېروتنو(د زړه بې ارادګۍ) لاملونه تر دې دمه په مینه او ښکلا پسې سر ښې کیږي.

که پر ښکلا او مینه شننې، تازه متفکرانه وبولو؛ ګرم نه یو، څکه ښکلا او مینه هغه مدرکونه دي، چې د ژوند او ادب په نوښت او پرمختګ سره نوي رنګونه راوړي، نوي لارې راپېژني او روح ته یې د ننه کیدای شو.

عبدالهادي ملا په خپل اثر(د وخت ضرب) په سر لیکنه کې ښکلا؛ جلال رب او مینه نیکي بللې ده.

ددې خبرې پر ثبوت او د ادب د تولیز پېژند پر اساس ښکلا د رب ذره او مینه؛ نیکي (ثواب) بللی شو.

هوس فکره اشخاصو ته د شرم او ګناه ځای دی چې د لوی رب د زرې سره بې نزاکته چلند وکړي، یایي هم عزت لوټ کړي او یا هم په کبنه ستر ګه وروګوري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د درک او فهم خاوندان د ښکلا پر لیدو؛ د هغې سره د مینې احساس کوي یانې د خپل خالق پر لور قدمونه اخلي.

## دانسان اړیکې دټولنې سره

دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی، پس ویلی شو، چې انسان دټولنې سره هیڅ اړیکه نلري بلکې پخپله انسان یوه ټولنیزه اړیکه ده.

که ووایو؛ چې انسان د ټولنې سره په هره برخه کې اړیکه لري، نو دا په دې مانا چې انسان له ټولنې بېل عنصر دی، فقط اړیکه ده چې ټولنې ته یې نیږدې کوي، پوښتنه دا ده چې دا اړیکه څه ده؟

خو نه؛!

انسان هغه اړیکه ده، چې په ټولنه کې د شته فعالیتونو، وجودونو او دهغوی دصفتونو ترمنځ ارتباط قایموي، همدارنګه ترمنځ یې دپیژند روحیه ورکوي.

که ووایو چې انسان دټولنې سره اړیکې لري نو که اړیکې یې له منځه یوسو، بیا هم انسان او ټولنه پاتې کیږي.

ایا دا به امکان ولري، چې انسان وي او اړیکې نه وي؟

نه هیڅکله نه!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه وايو چې انسان په خپله يوه ټولنيزه اړيکه ده. اوس ويلی شو چې اړيکه(انسان) له منځه يوسو نو په ټولنه کې هيڅ هم نه پاتې کيږي.
مخکې وويل شول چې انسان هغه اړيکه ده، چې په ټولنه کې دکړنو ، اجسامو او دهغوی داوصافو ترمنځ اړيکه جوړوي، نو وګورئ ! د انسان(اړيکې) له منځه تلو سره، هيڅ ټولنيز کار او فعاليت نه پاتې کيږي، هيڅ وجود ته دشته اړتيا نه پاتې کيږي، دهيڅ شي او جسم صفت نه احساسيږي، نو ښکاري چې انسان يو ټولنيز مخلوق نه دي بلکې انسان په خپله يوه ټولنيزه اړيکه ده.
که پوښتنه پيدا شي، چې انسان دټولنې سره اړيکه نلري بلکې په خپله انسان يوه ټولنيزه اړيکه ده نو دا اړيکه دڅه سره؟ دا اړيکه دچا شخه؟ د څه اړيکه؟
ځواب به يې دا وي چې هوا انسان يو ه اړيکه ده، نه دا چې انسان له ټولنې سره اړيکه لري، انسان هغه اړيکه ده، چې دټولنې دکارونو ترمنځ نښليدونکې صفات يې رامنځ ته کړې دي.
انسان هغه اړيکه ده چې دجسمونو منځ دکارونې صفات يې رامنځ ته کړې دي، انسان هغه اړيکه ده چې دټولنې هراړخ يې پوښلی، تارونه يې دټولنې په شاه، مخ باندې ښکار ه مالويږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لنډیو کې خبرې

پېزوان مې ستا برېتو کې خښ شو
تر دروازې پورې کړه درپسې تلمه

دپښتو ادب ترټولو خوندور او لنډکی شعري صنف هم لنډۍ دي چې د ادب په ډګر کې یې نړیوال شهرت خاصل کړی، پښتو لنډۍ دوه مصریزه شعر دی ،چې لمړی مصره یې نهه او دوهمه یې دیارلس سېلابه وي، که څه هم لنډۍ دحجم په لحاظ ډېرې کوچنی او لنډې وي، ولې دمانا په لحاظ دیو مکمل غزل څخه یا هم له دې ډیر زیات څه لري، پښتو لنډۍ معلوم شاعر نه لري خو اکثره یې دښځینه وو سندریزو بنډارونو محصول دي، پښتو لنډۍ روان، ساده او اهنګ لرونکي الفاظ په ځان کې لري چې ډېری یې په(میینه) چې ډېر مینه ناک او خوږ لن لفظ دی ختمې شوې دي.
په پښتو لنډیو کې (ن+ه) یا (م+ه) هغه حرفونه دي چې دلنډیو په اخر کې راځي چې په تقریبې ډول ټولې لنډۍ ورڅخه برخمنې دي.
پورته لنډۍ هم چې ډېر ساده الفاظ لري مګر په روح کې یې بلا خبر ې نغښتې دي.
د لنډۍ لمړنۍ مصره (پېزوان مې ستا برېتو کې خښ شو) یو خوندور ترکیب دی، دغه مصره په ښکاره ډول دیو ځوان او پېغلې په خوله ورکړي حالت انځور ګري کوي،



په تصوير کې ځوان شخ شخ بريتونه لري چې په پښتنې ټولنه کې دغيرت ، ميړانې او ځوانی سمبول بلل کيږي، دلته ځوان دپېزوان دځنځيري ګونګرو لاندې خپلې شونډې دپيغلې پرنرمو او پستو شونډو ږدي، دپيزوان ځنځيري ښامارونه نه پرېږدي چې دشونډو لالونه دخوک داسې په اسانه غلا کړي ، او ورسره مبارزه کوي چې بلاخيره يې شخ شخ بريتونه دپېزوان په ګونګرو کې خښيږي، نو جينی دپيزوان پربهانه يوه شکايتي جمله وايې چې (پېزوان مې ستا برېتو کې خښ شو)

دوهمه مصره ددې ټولو خبرو علت او اثر بيانوي او وايې:

(تر دروازې پورې کړه درپسې تلمه)

هر کله چې مصره دروازې او تګ يادونه کوي نو حتماً سړی پوهيږي چې ځوان له خپلې معشوقې روان دی ، خدای(ج) خبر چې چېرته ؟ له غربته او که له هيبته؟

يا که داسې تحليل وکړو چې ځوان په ډېر ډار او رپانده بدن له معشوقې خوله اخلي او بيرته دغمازانو له وېرې د دروازې په لور ځي.

خو له خوږې معشوقې دبېلېدو تصوير ښکاره کوي.

کله چې ځوان رخصتيږي نو ستونزه پيښيږي ، هو دا يوه خوندوره ستونزه ده، هغه دا چې دجينی پيزوان دځوان په شخو بريتو کې خښ دی، جينی نه غواړ ي چې دځوان له بريتو څخه خپل پېزوان په تيزی خلاص کړي بلکې غواړي چې تردروازې پورې ورسره کړه لاړه



(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او د دیدن په اخرو شیبو کې خپل ناز او ادا د بیا راتګ په بیعه وپلورې.

خو که همدې لنډۍ(پېزوان مې ستا بر پتو کې خښ شو- تر دروازې پورې کړه د رسره تلمه)

له صوفیانه کړکۍ وروګورو نو بېلې ماناوې به وزیږوي.

دلته یو مرید دخدای(ج) دسپیڅلي دوستی په ګرداب کې راګیر دی، مرید خپل زړه ته پیزوان وایي او جلال خدای ته وایې چې پېزوان مې ستا بریتو کې خښ شو.

په مصره کې(ستا ) کلیمه خپل خالق ته دمرید خطاب دی ، (بر پتونه ) د لوی خدای(ج) دولي، مرشدیا پیر لپاره استعاره ده، چې وایې:

اې لویه او جلاله خدایه!

ستا دولي او پیر اومرشد په وسیله مې زړه روښانه شو، او ستا سره ونښلیدو، دلته دتصوف ثبوت او حقیقت بیانیږي چې دوهمه مصره دهمدې حقیقت د دوام لپاره راوړل کیږي چې وایې:

تر دروازې پورې کړه درپسې تلمه

یانې دخدای (ج) په مینه خپل مرشد پوه کړم ، نو خپل پیر ته په احترام او درناوي ترقیامته (تردرواز) پورې ستا پاکي او قدرت بیانوم او ستا مینه ته به مایل او کوږ وم.

په حوصله راغاړې ووځه
کمربندونو مې پښتۍ خوږلي دينه



(c) ketabton.com: The Digital Library



پور ته لنډۍ درومانیت سره یو ځای حماسه هم انځوروي ، په لومړۍ مصره کې مین خپلې معشوقې نه دراغاړې وتو غوښتنه کوي او اورسره یو شرط ږدي چې په حوصله راغاړي ووځه!
دلته په حوصله او ورو غاړه غوښتل په دې مانا نه دي چې ګویا میین له خپلې معشوقې زړه موړی شوی دی، مګر دلنډۍ دحماسي اړخ لاښکلا لپاره دحوصلې کلیمه راوړي .
په دوهمه مصره کې سړی دله خپلې معشوقې څخه په حوصله دغاړې غوښتو دلیل وړاندې کوي چې وایې : کمربندونو مې پوښتۍ خوږلي دینه.
په مصره کې دکمربند یادول او دځوان په غښتلو اندامونو باندې دکمربندونو نرۍ نرۍ سرې کرښې دجنګ سنګر انځوروي.
مصره په ډاګه کوي چې ځوان اوس اوس له جنګه راستون شوی، مصره دجنګ یو مثبت تصویر راخلي ، دلنډۍ دلومړنۍ مصرې په ویلو سره لوستونکی پوهیږې چې ځوان له ګټلې جګړې راستون شوی ،خو ګټل یې همدا لنډی بیا ډېر په ګرانه او سخته مبارزه بولي ځکه نو دوهمه مصره دکمربندونو بندونه دپښتیو په خوراک تورنوي .
دلنډۍ لیکوال په لومړي سر کې له ډېر احتیاط کار اخیستی یانې : په حوصله راغاړې وځه، کمربندونو مې پوښتۍ خوږلي دینه.

چې ډوډۍ خورم لالا قاریږي
چې روپۍ شرنګ کړي لالا شین له خندا شینه



(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتني ټولنه له بده مرغه دولور کرغیړن دود ترسختې حملې لاندې نیولې ده، دهمدې دود زور او ځپلو له اهه دځینو پښتنو ځوانانو هر اسویلي څخه سوي سندرې او غمبخونکي لنډۍ جوړې شي.
دا لنډۍ هم دیوې پښتنې پیغلې اه دی، دلته جینی آن په کور کې ډوډی هم په منت خوري.
دلنډۍ لومړنی مصره په ډاګه دجینی دپیغلتوب نارې وهي ځکه چې دلالا قاریدل بې څه نه دي، لالا په کور کې دپیغلې جینی زغمل نه غواړي بلکې غواړي واده شي، همدا مصره بیا دجینی یتیم والی ښیي ځکه دلالا کلیمه اکثره دورور لپاره کارول کیږي ، نودلته کچیرې دجینی پلار ژوندی وی نو سرپرستي هروخت د پلار وي، نو معلومه شوه چې پیغله یتیمه ده او دسر بیه یې دورور واکو ته تللي ده.
افسوس د دوهمې مصرې په مانا، دلته بیا لالا له خندا وازه خوله نیولي او خپلې یتیمې خورته په قار نه دی.
خبره بله نه ده، هماغه جینی ده چې دډوډی په خوړلو هم ورته قاریدو، خو اوس هغه دکلیوالو په اصطلاح غمجنې ویني.
دلالا وازه خوله هم خالي نه ده وازه شوی بلکې څومره چې یې خوله وازه ده همدومره ډېر ولور یې دجینی له خصر ګنی اخیستي دي.
خدای(ج) خبرچې دلالا زوم به څنګه وي، خو دلالا وازه خوله، جینی ته فقط په ډوډی قاریدل او دروپیو شرنګ، دا هغه څه دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه په ډاګ کیږي چې زوم به دپیسو په خوښه وي نه دجینۍ په خوښه.

مقصد مې دادی چې دلالا زوم به یازوړ وي، یا هم ......

تردې خروړي سپې راتېر شه
تر دې ملالې خولې به زه درتېره شمه

که څه هم پورته لنډۍ ځینو ادب شنونکو په صوفیانه لحاظ تحلیل کړي ده،ولې دلنډۍ لوستونکی په لوستلو سره صوفیانه تصور ته نشي نیږدي کیدلی بلکې په لنډۍ کې رومانتیک اړخ ترصوفیانه ډېر پیاوړی او فصیح دی.

دا منم چې په ډېرو لنډیو کې به ترلیدونکي تصویر ، نه لیدونکی تصویر ډېر پیاوړی وي، خو عام لوستونکي ترډېره دلنډۍ ظاهري اړخ ته ګوري او همغه مانا ورځخه اخلي.

دتصوف اړخ همغه پخوانی رانیسو خو لومړی یې درومانیت دمانا بڼ ته سر ورښکاره کوو.

تردې خروړي سپې راتیر شه

لومړنی مصره دمین او معشوقې دتصویر په شاه کې ددوي ژوند هم په ډېر ښه انداز انځوروي،

خروړی سپی نیږدې دا په ډاګه کوي چې معشوقه یې چرته په کیږدیو کې وسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پوښته دلته پیدا کیږي چې دلته معشوقې ولې خپل سپې ته
خروړي(سپک، بدرنګ) لفظ راوړی؟
حال دا چې داسپې دهغوی پاسباني کوي، داسې هم نه ده چې سپې
خپله دچا کره ووسي، هرڅوک سپی ساتي ، څه رنګه چې لازم دی
احترام يې کوي،
خودلته جینې دخپل مین لپاره خپل سپې ته دخروړي کلیمه
راوړي؟
هو همدا کلیمه دجینې او هلک د ژوند چاپیریال انځوروي ،
معلومیږي چې هلک دښار په شیشمهلونو کې اوسیږي، او هیڅ يې له
سپو سره نه ده جوړه، نو ځکه جینی خپل قدرمن اوهغه سپی چې په
سراګانو اوغرونو کې ددوی رمې ساتی ، ورته خروړی او بدرنګ معرفي
کوي.
او ورپسې زیاته وي چې(راتېر شه) یانې تردې خروړي سپې راتېر شه!
دلته راتېر بدل په دې مانا نه دي چې فقط له خروړي سپې راتیرشه
بلکې دهغې له غیا او کرپهار څخه هم باید خوندي وې.
دمینې شرطونه هروخت ګران تماميږي ، دلته هم له سپې په داسې
حال کې تیریدل چې آن سپی باید خبر هم نشي، دمین لپاره لږ څه
ګران دي خو، په دوهمه مصره کې ددې قرباني لپار یوه انعام
تیارشوی چې واي.
تردې ملالې خولې به زه درتېره شمه



(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته که فکر وشي دسپي ته دخروړي لفظ او خولګی ته دملالې لفظ بېل خوند لنډۍ ته وربښلی.

کله چې مين له خروړي سپې تيريږي او دومره قرباني کوي نو هلته ورته خپله معشوقه له خپلې ملالې خولې تيريږي.

دلته په لنډۍ کې يو څه ادبي درغلي شوې، يعني په لومړنی مصره کې مين له سپي تيريږي، قرباني کوي ، په ځان داسخته تيروي، خو هلته بيا معشوقه له خپلې ملالې خولې تيريږي، پوهان وايې مينه له دواړو اړخونو خوندوره وي، اوس چې مين په ځان خواری تيره کړه سمه ده خو ايا دجينی لپاره خپل مين ته خوله ورکول هم خواري بلل کيږي؟

که ځواب هو وي نو بيا خو مينه غلطه تصور کيږي، خوکه ځواب (نه) وي نو ولې دمين قرباني پرقربانی نه حسابيږي؟

خبره بله ده، سپی دهمدې ديدني حال جزي شی دی يانې داسې نه چې خدای مکړه سپی جينی خپله دديدن دنه کيدو لپاره يا دمين د ازمايلو لپاره دلته تړلی ،دا چې تصادف داسې شو چې سپی ددوی ترمنځ غماز جوړ شو نو مين مجبور دی چې له سپې تېر شي او دخپلې معشوقې ملالې خولې ته ځان ورسوي.

ددې لنډۍ يانې

ترديې خروړي سپې راتېر شه
تر دې ملالې خولې به زه درتېره شمه



(c) ketabton.com: The Digital Library



دتصوف اړخ څه بېل رنګ لري، په لنډې کې خروړی سپی دشیطان لعین په مانا راځي.
یانې انسان ته خطاب دی چې دشیطان له تېرایستلو او لومو ځان تیر (برلاسی) کړه!، پورته موهم یاده کړه چې په لنډې کې له سپې تیریدل فقط دتیریدلو مانا نه لري، بلکې باید داسې ورڅخه تېر شې چې سپي دپښو کړپهار وانه وري ،ترڅو سپی درپسې ونه غپېږي.
دلته هم انسان باید د شیطان له پلانونو داسې ځان ازاد کړي اودتصوف پرمستقیمه لاره داسې روان شي چې شیطان ان پسي خبر هم نه شي( شیطان باید تېر باسي نه داچې شیطان دی تېر باسي).
دتصوف مقصد هم دادی چې انسان بایدد خپل خالق داسې امر پر ځای کړي چې دګناه فکر یې هم په زړه او دماغو کې رانشي.
په دوهمه مصره کې(تردې ملالې خولې به زه درتېره شمه) له ملالې خولې څخه مقصد جنت دی، یانې کله چې انسان دشیطان له کارونو لاس په سر شي او شیطانې لارې څخه څنګ واخلې نو جلال خدای به یې جنت ته داخل کړي ، چې دا دده دهغې قرباني انعام دی چې دنفس دغرایزو او خواهشاتو سره سره یې خپل ځان کابو کړ او دشیطان لاره یې ترک کړه.

## مننه چې راسره پاتې شوئ!



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**